[پښتو Pashto]

LANDSTINGET BLEKINGE

د بلیکینګی ولایتی شورا

**د تجویزکوونکی سره د تماس لپاره اطلاعات:**

-----------------------------------------
د تجویزکوونکی نوم

--------------------------------------
د کار ځای

--------------------------------------
د تیلفون شمیره

--------------------------------------
د ناروغ نوم

--------------------------------------
لاسلیک

# د خپلو مرستندوی وسایلو په هکله په څه شی غواړی پوه شی

**د مرستندوی وسایلو د مرکز** Teknisk service på
Hjälpmedelcenter **سره د تماس لپاره اطلاعات**
د مشتریانو برخه
تیلفون 35 63 73-0455
بریښنا لیک: hjalpmedelscenter@ltblekinge.se

د لیدلو ځای : Skräddervägen
371 55 Karlskrona

LANDSTINGET BLEKINGE

**د ستا مسئولیت**

د مرستندوی وسایلو څخه باید د هغه لارښونی په اساس استفاده وشی چه د دوی د استفادی په کتابچه کی لیکل شوی دی او د هغه معلومات په اساس چه ستا تجویزکوونکی یی تاته درکوی .

د مرستندوی وسایلو په لاس راوړلو سره سړی د دوی د ساتنی، پاکولو او محافظت مسئولیت په غاړه اخلی.

د مرستندوی وسایلو د امانت اخیستلو په موده کی ته یا ستا خپلوان / سرپرست د دوی مسئولیت لری. د مرستندوی لوازمو چښتن د بلیکینګی ولایتی شورا ده. د مرستندوی لوازمو خرڅول یا کوم بل چا ته ورکول ممنوع دی .

که د مرستندوی وسایل له عادی حالت نه زیات استهلاک شی، یا ته په خپله دوی ته زیان ورسوی، ورک شی یا غله شی، نو بیا به ته د هغو تاوان ورکوی. په دی دلیل دا مهمه ده چه ته په خپله بیمه کی دا په نظر کی ونیسی.

د مرستندوی وسایلو د ورکولو په وخت کی د استفادی د موادو یو سیټ هم ورکول کیږی. له هغه نه وروسته باید ناروغ پخپله د لاندی موادو مصرف په غاړه واخلی:

- بالتی (AAA,AA,A)۹ولټه او د ساعت بالتی
- فالتو پرزی او د CPAP لپاره پوښ
- د TENS لپاره د الیکترود تختی

د هغه زیان د ترمیم پیسی چه د مرستندی وسایلو د استفادی په نتیجه کی ستا چاپیروال ته مثلا د ستا په آپارتمان کی، منځ ته راځی، د ولایتی شورا یا ښاروالی له خوا نه ورکول کیږی.

**زیان یا ورکیدل**

د مرستندی وسایلو د صدمی، ورکیدلو/ غلا کولو، کومه پیښه / د پیښی نښی په صورت کی د خپل تجویزکونکی سره تماس ونیسه.
د غلا کولو په صورت کی، باید هم پولیس او هم د بیمی شرکت ته خبر ورکړ شی.

**کنټرول او ترمیم**

د عادی استهلاک په صورت کی کنټرول او ترمیم ستا لپاره وړیا دی. په لمړی قدم کی د خپل تجویزکونکی سره تماس ونیسه.

همدا راز کولای شی د مرستندی وسایلو د تخنیکی خذمتونو د مرکز سره تماس ونیسی، د تیلفون کولو وخت له دوشنبی څخه تر جمعی پوری د ۸ بجو نه تر ۹ بجو او د ۱۳ بجو نه تر ۱۴ بجو پوری. په نورو وختو کی د خبرتیا د استولو امکان په لاندی توګه موجود دی: د 35 63 73-0455 شمیری تیلفون، او دغه بریښنا لیک ته
teknisksevice.hmc@ltblekinge.se

**کډه کول**

د ولایت په داخل یا دولایت نه بهر ته د کډی کولو په صورت کی، ته باید د کډی کولو د مخی نه د خپل تجویزکونکی سره تماس ونیسی. دولایت نه بهر ته د کډی کولو په صورت کی په عادی ډول باید مرستندی وسایل بیرته وسپارل شی. نوی مرستندی وسایل به د اوسیدلو په نوی ځای کی درکړل شی.
که ته بیله دی نه چه تماس ونیسی مرستندی وسایل د ځان سره واخلی، نو ته دا مسئولیت لری چه دغه مرستندی وسایل د بلیکینګی ولایتی شورا ته بیرته وسپارل شی.

**بیرته سپارل**

کله چه مرستندی وسایلو ته نوره کومه اړتیا نه وی، نو باید دا وسایل ښه پاک شی او بیا بیرته وسپارل شی. که ته د تجویزکوونکی د توصیی سربیره بیا هم مرستندوی وسایل بیرته ونه سپاری، نو ته به د تاوان ورکولو مکلف وګرځی. د خپل تجویزکونکی سره یا د مرستندی وسایلو د مرکز سره تماس ونیسه،
تیلفون 35 63 73-0455